# جریده میـــزان

قوهٔ قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تیری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۲۶ چنګاښ ۱۴۰۲ ه ش | ۲۹ ذوالحجة الحرام ۱۴۴۴ ه ق | ۱۷ جون ۲۰۲۳ م | مسلسله شمیره (۳۸)


## گزارش کاری سال ۱۴۴۴ هـ ق ریاست عمومي دارالافتاء و محکمهٔ خاص ولایت کابل

گزارش اجراآت و دست‌آوردهای ریاست دارالافتاء ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان طی سال ۱۴۴۴ هجری قمری قرار ذیل می‌باشد:

ریاست دارالافتاء و محکمهٔ خاص ولایت کابل منحیث رکن اساسی قضائی امارت اسلامی افغانستان تلاش می‌نماید تا عدالت اسلامی را به بهترین وجه تأمین و تطبیق شود و ذیحق از حق شرعی‌اش مستفید گردد.

روند کاری این ریاست طوری است که استفتاآت مختلف از مراجع امارتی، غیر امارتی، اشخاص حقیقی و حکمی به این ریاست از طریق مقام عالی ستره محکمه مواصلت می‌ورزد.

در ابتداء فتح امارت اسلامی افغانستان مطابق فرمان مؤرخ ۱۴۴۳/۴/۲۶ هجری قمری به ریاست دارالافتاء صلاحیت رسیده‌گی به دوسیه های نهائی شده نظام اداری فاسد جمهوری که تا هنوز تطبیق نشده بود تفویض گردید، که بعد از یک سلسله اجراآت کافی ریاست دارالافتاء ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان و لزوم دید رهبری محترم امارت اسلامی افغانستان ذریعهٔ فرمان (۱۵) ماده‌ای مؤرخ ۱۴۴۳/۱۲/۵ هجری قمری مقام عالی امارت اسلامی افغانستان؛ به ریاست دارالافتاء ستره محکمه صلاحیت قضائی منحیث محکمهٔ اختصاصی تفویض گردید.

مطابق همین فرمان شمارهٔ فوق مقام محترم عالی رهبری اسلامی افغانستان و مصوبهٔ شورای عالی ستره محکمهٔ اسلامی افغانستان ذریعه متحدالمآل نمبر(۳۱)، مؤرخ ۱۴۴۴/۴/۱۸ هجری قمری به ریاست دارالافتاء ستره محکمه صلاحیت رسیده‌گی به دوسیه‌های نهائی نشدهٔ از نظام فاسد جمهوری نیز تفویض گردید، که در مرحلهٔ ابتدائیه، استیناف یا اینکه مرحله تمییز آن نیز طی شده باشد و تطبیق نشده باشد داده شد؛ نظر به متحدالمآل شمارهٔ فوق هزارها جلد دوسیه به این ریاست مواصلت ورزید.

این ریاست باوجود اینکه به سطح کشور بالای موضوعات استفتائی امارتی و غیر امارتی اشخاص حقیقی و حکمی میپردازد، صدها دوسیه‌ای قضائی را نیز بررسی نموده و هنوز هم بررسی دوسیه ها متباقی ادامه دارد.

در جریان سال ۱۴۴۴ هجری قمری این ریاست در بخش طرزالعمل اجراآت و فعالیت‌های ریاست دارالافتاء ستره محکمه و همچنان طرزالعمل مربوط کمیتهٔ رؤیت هلال نیز کار کرد؛ علاوه بر آن اجراآت برای ترتیب اصولنامهٔ موضوعات تفریق در این ریاست تحت غور و بررسی است.

باوجود این همه اجراآت مسلکی و اداری، این ریاست در سال ۱۴۴۴ هـ ق در بخش حل و رسیده‌گی به قضایا دست آوردهای ذیل دارد:

۱ ـ مجموعاً اجرأ (۳۸۰۰ مورد) وارده و صادره دوسیه‌ها، مکاتیب و غیره.

۲ ـ اجرأ (۷۷ مورد) وارده و صادرهٔ متفرقه.

۳ ـ صادر نمودن (۸۸۰) فتوی در رابطه به آن دوسیه های که به این ریاست مواصلت ورزیده بود.

٤ ـ به تعداد ۵۵ دوسیه در محکمهٔ خاص ولایت کابل تحت بررسی قضائی قرار دارد.

٥ ـ دو تبعهٔ خارجی به دین مقدس اسلام مشرف گردیده اند که تصدیق نامه برای شان توزیع گردید.



## د زابل ولایت شهر صفا ولسوالۍ کې د مقتول کورنۍ قاتل ته بخښنه وکړه

دوشنبه د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د ذوالحجې میاشتې په ۱۵مه نېټه د زابل ولایت د شهر صفا ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې په هڅو د مقتول کورنۍ یوه قاتل ته بخښنه وکړه.

د قتل یاده پېښه د عرفات په ورځ (د ۱۴۴۴ کال د ذوالحجې په ۹مه) نېټه رامنځته شوه. په یاده نېټه یوه باروړونکي(ټېلر) موټر چې موټرچلوونکی یې احسان الله د وردګ ولایت اصلي اوسېدونکی و د زابل ولایت د شهر صفا ولسوالۍ اوسېدونکی جمعه‌ګل وواهه او شهید شو.

د دې پیښې دوسیه په رسمي ډول محکمې ته تر راجع کېدو وروسته په غور او دقت وڅېړل شوه.

یاده موضوع د شهر صفا ابتدائیه محکمې په وسیله د میدان وردګ او زابل ولایتونو د دیني علماوو په منځګړیتوب حل او د مقتول کورنۍ قاتل ته بخښنه وکړه.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۵۷**

**نېټه: ۱۴۴۴/۱۱/۲۹ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا غونډه په تاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۵هـ ق چې د ۱٤۰۲ هجري لمریز کال د جوزا د میاشتې د څلور ویشتمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ دائره شوه چې د یادي غونډې دویمه موضوع داسې وه: ((د عامه حقوقو قضیو ته د رسیدګۍ په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حکم نمبر(۳۰۷۱) مورخ ۱۴۴۴/۸/۲۵هـ ق رارسیدلی چې د یاد حکم متن په لاندې ډول دی:

((لومړۍ ماده: د عدلیې وزارت د امارت قضایاوو اداري مؤظفې دي چې اړونده قضیې د رسیدګۍ لپاره د اړونده ولایت د ښاري محکمې د عامه حقوقو دیوان ته محولې کړي.

دوه یمه ماده: محکمې مؤظفې دي چې تر امر ثاني پورې د دې حکم په لومړۍ ماده کې درج شویو قضیو ته په ابتدائي پړاو کې د اړوندې ښارې محکمې د عامه حقوقو دیوان کې رسیدګي وکړي.

دریمه ماده: د استیناف او تمیز په پړاوونو کې د عامه حقوقو قضیو ته رسیدګي دې د پخوا په شان صورت ومومي.

څلورمه ماده: دغه حکم د صدرو له نېټې څخه نافذ دی.))

اوس پوښتنه داده: محاکم د عامه حقوقو کوم موضوعات واخلي او کوم وانخلي.))

د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۴۳) مورخ ۱۴۴۴/۱۱/۲۵هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۳/۲۴هـ ش د دویمې پریکړې په اساس داسې هدایت وکړ: ((د عامه حقوقو قضیو ته د رسیدګۍ په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حکم نمبر(۳۰۷۱) مورخ ۱۴۴۴/۸/۲۵هـ ق کې عامه حقوق مطلق ذکر سوي دي په دې اساس دې ټولو محکمو ته هدایت وشي ترڅو د مشرتابه محترم عالي مقام د ذکر شوي حکم مطابق، یاد موضوعات د قضایای امارت تر استولو وروسته واخلي او په شرعي طریقه دې حل او فصل کړي.

یادونه: د عامه حقوقو دیوان په باره کې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا شفاهي هدایت شوی چې: په یاد حکم کې د عامه حقوقو دیوان څخه مراد (مدني دیوان) دی.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام حکم د سترې محکمې د عالي شورا د هدایت په اساس د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو ترڅو د هغه په رڼا کې اصولي اجراآت تر سره شي.

پاتې برخه ص ۳

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قضاء څرنګوالی:**

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قضاء د څرنګوالي لوري ته په هغه صحیح حدیث شریف کې اشاره شوې ده، کوم چې ام سلمې رضي الله عنها روایت کړی دی، دا فرمايي: له انصارو څخه دوه کسان رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل، تر څو د هغو ترمنځ چې د میراث په سر کومه شخړه منځته راغلې ده، حل کړي او د دوی تر منځ هیڅ ثبوت نه وو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: تاسو ماته خپله شخړه د حل په موخه وړاندې کړله، زه به ستاسو په منځ کې د هغه څه په اړه قضاوت کوم چې زه یې اورم، نو د چا لپاره چې زه د هغه د ورور له حق څخه پریکړه وکړم هغه دې نه اخلي، دا ځکه چې ما ورته د اور یوه ټوټه ور کړه، هغه به یې د قیامت په ورځ غاړې ته اچول شوې وي، نو هغه دوه کسان په ژړا شول او هر یوه وویل: چې زه خپله برخه خپل ورور ته ور کوم.

نو رسول الله صلي الله علیه وسلم وویل: اوس چې تاسو دا خبره وکړه، نو دواړه ولاړ شئ او خپل میراث سره وویشئ، د هر یوه حق او برخه جلا کړئ او هر یو دې خپله برخه واخلي.[رواه أحمد في مسنده، رقم(۲۶۷۱۷)].

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۲ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## طی یک ماه در محاکم ابتدائیۀ زون های چهارگانه شهری و محکمه ابتدائیه تجارتی شهر کابل به تعداد (۱۶۶۹) دوسیه حل و فصل شده است

گزارش توحیدی از اجراآت یک ماهه بخش‌های جزائی و حقوقی محاکم ابتدائیه زون های چهارگانه شهری و بخش تجارتی محکمه ابتدائیه تجارتی شهر کابل از تاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۱/۲۹ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**۱. در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۰۲) دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیه چهار زون شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده. از آن جمله به تعداد (۲۸۲) قضیه فیصله شده، (۲۳۹) دوسیه طی مکتوب مسترد، در مورد (۱۹۶) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**۲. در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۰۸) دوسیه به دواوین محاکم ابتدائیه چهار زون شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده. از آن جمله به تعداد (۶۶) قضیه فیصله شده، (۱۷۲) دوسیه طی مکتوب مسترد، در مورد (۳۶۳) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**۳. در بخش تجارتی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۴۹۳) دوسیه به دواوین الف، ب، بانکی و مالیاتی محکمه ابتدائیه تجارتی شهر کابل مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده. از آن جمله به تعداد (۷۴) قضیه فیصله شده، (۱۶۰) دوسیه طی مکتوب مسترد، در مورد (۱۱۷) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

## طی یک ماه در دواوین محکمه مرافعه ولایت کابل (۲۱۶) دوسیه حل و فصل شده است

گزارش اجراآت یک ماهه بخش‌های جزائی، نظامی، حقوقی و تجارتی دواوین محکمه مرافعه ولایت کابل از تاریخ ۱۴۴۴/۱۱/۱ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۱/۲۹ هـ ق به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**دیوان جزاء محکمه مرافعه:**

در جریان یک ماه به تعداد (۸۲) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده. که از آن جمله به تعداد (۱۱) دوسیه فیصله شده، (۸) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده، در رابطه به (۴۹) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**دیوان امنیت عامۀ محکمه مرافعه:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۹) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده. که از آن جمله به تعداد (۳) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده، در رابطه به (۱۶) دوسیه طی قرار قضائی تصمیم اتخاذ شده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

**دیوان نظامی محکمه مرافعه:**

در جریان یک ماه به تعداد (٦) دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که از قبل نیز چندین دوسیه موجود بوده. که از آن جمله به تعداد (۱) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی دوسیه ها تحت دوران قرار دارد.

## د فراه محاکمو په دوو اونیوکې د (۱۵۱) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۲۲۲) وثیقې هم اجرا کړې دي

په دغه راپور کې له ۱۴۴۴/۱۱/۷ هـ ق نېټې څخه تر ۱۴۴۴/۱۱/۱۹ هـ ق نېټې د فراه ولایت د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو حقوقي او جزائي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې د فراه ولایت محاکمو ته (۶۵) حقوقي دوسیې راجع شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې ډلې (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۵) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوي، (۲۷) فیصله شوې او پاته نورې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې د فراه ولایت محاکمو ته (۱۵۷) جزائي دوسیې راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۳۲) دوسیو په اړه قضائي قرار صادر شوي، (۸۳) فیصله شوې او پاته نورې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۲۲۲) بېلا، بېلې وثیقې هم اجرا شوې دي.

## گزارش برج جوزا سال ۱٤۰۲ هـ ش اجراآت محاکم استیناف ولایت کندز

گزارش برج جوزا سال ۱٤۰۲ هـ ش اجراآت محاکم مرافعه ولایت کندز به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**بخش حقوقی:**

به تعداد (۲۹۵۸) جلد دوسیه حقوقی تحت دوران محاکم مربوطه از قبل موجود بوده و در برج جوزا به تعداد (٤۷۳) جلد دوسیه دیگر وارد محاکم گردیده. که از جمله به تعداد (۱۱۲) جلد دوسیه فیصله شده، به تعداد (۲۸۸) جلد دوسیه طی قرار قضائی صادر شده، به تعداد (۳۸) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و به تعداد (۲۹۹۳) جلد دوسیه باقی مانده تحت غور محاکماتی دواوین استینافی، دواوین ابتدائی شهری و محاکم ولسوالی ها قرار دارد.

**بخش جزائی:**

به تعداد (۵۹۲) جلد دوسیه جزائی تحت دوران محاکم مربوطه از قبل موجود بوده و در برج جوزا به تعداد (۲۶۶) جلد دوسیه دیگر وارد محاکم گردیده. که از جمله به تعداد (۹٦) جلد دوسیه فیصله شده، به تعداد (۱۲۸) جلد دوسیه طی قرار قضائی صادر شده، به تعداد (۳۱) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و به تعداد (٦۰۳) جلد دوسیه باقی مانده تحت غور محاکماتی دواوین استینافی، دواوین ابتدائی شهری و محاکم ولسوالی ها قرار دارد.

**بخش وثایق:**

در برج جوزا سال ۱٤۰۲ هـ ق در آمریت ثبت اسناد و وثایق و محاکم ولسوالی ها به تعداد (٤۳٦) قطعه وثایق مختلف النوع اعم از نکاح خط، اقرار خط، وکالت خط، وصایت خط، ابراء خط، ضمانت خط و مثنی وثایق مختلف برای مراجعین ترتیب و اجراء شده است.

## طی دو هفته در محاکم ولایت بادغیس علاوه بر حل و فصل (۲۸۶) دوسیه، به تعداد (۱۸۸) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء شده است

راپور دوسیه‌جات و وثایق ریاست محکمۀ مرافعه ولایت بادغیس شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق محکمه ابتدائیه شهری از تاریخ ۱٤۰۲/۳/۱ الی ۱٤۰۲/۳/۳۱ هـ ش مطابق ۱۴۴۴/۱۱/۲ هـ ق الی ۳/ ۱۲/ ۱۴۴۴هـ ق به شرح ذیل مواصلت نموده است:

**در بخش حقوقی وتجارتی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (۷۱) دوسیه وارد محاکم آن گردیده؛ در حالی که از قبل (۸۸) دوسیه دیگر نیز تحت دوران قرار داشته که مجموعاً ( ۱۵۹) دوسیه میشود. که از آن جمله (۶) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۵۸) دوسیه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و (۹۰) دوسیه باقی مانده تحت کارمی‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان چهار هفته به تعداد (۷۳) دوسیه وارد محاکم آن گردیده؛ در حالی که از قبل (۶۴) دوسیه دیگر نیز تحت دوران قرارداشته که مجموعاً (۱۲۷) دوسیه میشود. که از آن جمله (۲۱) دوسیه فیصله شده، (۱۵) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۵۱) دوسیه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده و (۴۹) دوسیه باقی مانده تحت کارمی‌باشد .

همچنان به تعداد (۱۸۸) قطعه وثایق مختلف النوع طی این مدت اجراء گردیده است.

## جلسه اداری و قضائی در محکمه مرافعه ولایت پنجشیر برگزار شد

جلسه اداری و قضائی محکمه مرافعه ولایت پنجشیر یوم چهار شنبه مؤرخ ۱۴۴۴/۱۲/۳ هـ ق تحت ریاست محترم مولوی عبدالله «سدید» رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت پنجشیر با اشتراک رؤساء و اعضای قضائی، کارمندان اداری محکمه مرافعه و محکمه ابتدائیه شهری بمنظور حل چالش های موجود فراء را اجراآت اداری و قضائی در دفتر کاری مقام ریاست دایر گردید.

ابتداء جلسه با تلاوت آیاتی چند از کلام الله مجید توسط محترم مولوی روح الله «روحانی» محرر مستشار دیوان مدنی و حقوق عامه محکمه شهری آغاز شد سپس رئیس محکمه مرافعه ضمن خوش آمد گوئی و آرزوی صحتمندی اعضای جلسه؛ مرور مختصری پیرامون اهمیت مسلک قضاء و جایگاه قاضی طبق هدایات و رهنمود های دین مقدس اسلام نیز داشت بعداً راجع به موضوعات ذیل به ترتیب بحث و تبادل نظر همه جانبه صورت گرفت که در نتیجه راه حل های شرعی، قانونی و مقتضی جستجو و هدایات لازم صدور یافت:

۱ ـ پابندی به حاضری: عموم کارمندان قضائی، اداری وخدماتی در مقابل دریافت معاش که بنام حقوق و امتیازات نامیده می شود از یک سلسله مکلفیت های قانونی برخوردار میباشند که از جمله پابندی به حاضری که یک اصل است می توان نام برد.

بناءً تمام کارمندان اعم از قضائی، اداری و خدماتی مکلف و ملزم برعایت یومیه حاضری خویش بوده و اوقات قبل از ظهر و بعداز ظهر را جداً درنظرگرفته و دروقت معینه آن به امضای حاضری خویش اقدام نمایند در صورت ضرورت و عدم حضور طبق اصول از رخصتی های قانونی خویش استفاده نمایند.

۲ ـ رعایت یونیفورم شرعی: ملبس بودن به لباس شرعی و آراسته گی ظواهر به قواعد و ضوابط شریعت نیز از جمله مکلفیت های قانونی کارمندان بوده که در ساحه کاری در نظر گرفته شود.

۳ ـ حسن برخورد با مراجعین و اطراف دعوی: حسن برخورد و پیش آمد نیک بدون هیچ گونه تمایز از لحاظ قومی، نژادی، جنسی وغیره حین تعامل رسمی با اطراف دعوی و مراجعین از جمله مسئولیت های اخلاقی، حقوقی و شرعی هر مامور میباشد که رعایت آن از طرف عموم کارمندان الزامیست.

٤ ـ رعایت اصول عمل اداری: اصل قانونیت، اصل برابری، مساوات وعدم تبعیض، اصل بی طرفی، اصل تناسب و غیره که از جمله اصول عمومی محاکم بر عمل اداری پنداشته می شود از طرف کارمندان جداً رعایت گردد.

٥ ـ رعایت نظافت: مراعات نمودن نظافت و حفظ الصحه که یکی از توصیه های طبی و شرعی بوده از طرف عموم منسوبین در دفاتر کاری و ماحول محکمه در نظر گرفته شود.

و جلسه بادعائیه خیر و فلاح مردم خاتمه یافت.

## طی دو هفته در محاکم ولایت غور علاوه بر حل و فصل (۹۱) قضیه حقوقی وجزائی؛ (۱۴۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است

راپور دوسیه جات و وثایق ریاست محکمه مرافعه ولایت غور شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمه ابتدائیه شهری، محکمه نظامی زون غور و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها ازتاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۵ هـ ق الی ۱۴۴۴/۱۲/۱۸ هـ ق بشرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۲) دوسیه حقوقی وارد محاکم آن گردیده، در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشته. که از آن جمله (۳۷) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۱۹) دوسیه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده؛ که در مجموع به تعداد (۶۵) دوسیه اجراآت گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار میباشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۲) دوسیه جزائی وارد محاکم آن گردیده، در حالیکه از قبل نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشته. که از آن جمله (۱۷) دوسیه فیصله شده، (۱) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (۸) دوسیه طی قرار قضائی اجراآت بعمل آمده؛ که در مجموع به تعداد (۲۶) دوسیه اجراآت گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کارمیباشد.

همچنان طی این مدت به تعداد (۱۴۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## جلسهٔ اداری محکمه مرافعه ولایت بامیان دایر گردید

جلسهٔ اداری ریاست محکمه مرافعه ولایت بامیان بتاریخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷ هـ ق تحت ریاست محترم مولوی سید میرآغا «هاشمی» رئیس محکمه مرافعه در مقر ریاست محکمه مرافعه دایرگردید.

در این جلسه که تمام کارمندان اداری وخدماتی شعبات و دیوانهای مرافعوی، محکمه ابتدائیه شهری وآمریت دفتر ثبت اسناد وثایق مخزن اشتراک داشتند، با قرائت آیاتی از کلام الله مجید توسط محترم قاری حق نواز مدیر اجرائیه آن ریاست آغاز گردید.

سپس رئیس جلسه بیان نمود در هر جای که مشغول کار وخدمت میباشیم، اطاعت و پیروی از قانون ومقررات آن نهاد وسازمان یک اصل دینی میباشد وتمام پرسونل مکلف است که مطابق قانون ساعت ۸ صبح الی ۴:۰۰ بعد از ظهر به وظایف محوله خویش حاضر و یک ساعت وقفه صرف طعام چاشت و ادای نماز از این امر مستثنی میباشد و در ختم رسمیات حاضری خویش را در شعبه حاضری امضاء نمایند.

همچنان رئیس محکمه مرافعه تمام پرسونل اداری و خدماتی را در اجراآت سریع امور اداری، کار خلق الله و پاک نفسی تاکید نموده و نیز کارمندان را تشویق نموده که سیرت وصورت خویش را به سنت رسول الله صلی الله علیه وسلم آراسته نموده طبق شریعت غرای محمدی صلی الله علیه وسلم تمام دستورات اسلامی را در محیط کاری خویش رعایت نموده و خود را عیار سازند.

و در اخیر جلسه تمام مشکلات و نظریات کارمندان اداری و خدماتی مقام ریاست را در نظر گرفته و به مرجع مربوطه دستور داد تا طبق احکام قانون اجراآت بدارند و جلسه با دعائیه خیر خاتمه یافت.

## د میدان وردګو ولایت د چک ولسوالۍ ابتدائیه محکمې له لوري درې تنه مجرمینو باندي تعزیري سزا تطبیق شو

د روان ۱۴۴۴ هجري قمري کال د ذوالحجې میاشتې په ۱۷ نېټه د میدان وردګ ولایت په مرکز میدان ښار د غازي امان الله خان په ورزشي لوبغالي کې د چک ولسوالۍ ابتدائیه محکمې له لوري په درې تنو مجرمینو تعزیري سزا تطبیق شوه.

یادو مجرمینو ته چې دوه یې نارینه او یوه ښځینه وه، چې له کور څخه د تیښتې په تور د درې ګونو محاکمو له طی کولو وروسته په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د تعزیري سزا د تطبیق په دې مراسمو کې د دولتي مسؤلینو سربېره عامو هیوادوالو هم ګډون کړی وو.

په مراسمو کې د قوماندانۍ قومندان ښاغلي شیخ محمد شریف حلیمي صاحب د حدودو او تعزیري جزاګانو د تطبیق په اهمیت هر اړخیزې خبرې وکړې او د محاکمو له قضاتو یې مننه وکړه، چې د شهیدانو آرمانونه یې پوره کړل چې یو یې هم د حدودو او تعزیراتو تنفیذ وو.

د شرعي قوانینو تنفیذ یې د خپلې سپیڅلې مبارزې ستره موخه او آرمان یاد کړ او دا یې لویه لاسته راوړنه وبلله.

ورپسې د یاد ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس ښاغلي مولوي عبدالکریم حقاني صاحب د حدودو او تعزیراتو په اهمیت خبرې وکړې او وویل، چې د اسلامي امارت په محاکمو کې به هر مجرم مجازات کیږي، د حدودو او تعزیراتو نافذول یې د دنیا او آخرت د خیر ذریعه یاده کړه او د نورو د عبرت وسیله یې وبلله.

همدا راز عامو خلکو د محاکمو په داسې کړنو خوښي څرګنده کړه او د الله تعالی شکر یې ادا کړ.

غونډه په دعاء ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۵۸
### نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۲۰ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت او د ایران جمهوري دولت تر منځ د حقوقي او قضائي همکاریو مشترک مجلس مورخ۱۴۰۱/۶/۱۳ هـ ش مطابق د ایران هیواد، د افغانستان اسلامي امارت ته ځیني افغان بندیان تسلیم کړي دي چې یاد بندیان په ایران هیواد کې په مختلفو جرمونو لکه: (سرقت، مواد مخدر، د انسان قاچاق، اختطاف، لواطت، الکولي مشروبات، قتل، جعلي اسناد، جعلي پیسې او ورود غیر مجاز) نیول شوي او د ایران هیواد د محاکمو لخوا په مختلفو جزاګانو لکه: د یو کال څخه تر ۴۶ کلونو بند ځینې یې په ۴۳ یا ۷۴ دُرو او ځینې په اعدام محکوم شوي دي.

د زندانونو چارو د سمون ادارې په درو (هرات، فراه او نیمروز) ولایتونو کې دغه زندانیان د افغانستان اسلامي امارت محاکمو ته سپارلي دي، دا چې د یادو زندانیانو د جرم محل د ایران هیواد دی او د ایران هیواد د محاکمو لخوا په مختلفو جزاګانو محکوم شوي دي نو په دې اساس، موضوع د سترې محکمې د محترم مقام لخوا د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندي شوې وه او د عالي مقام څخه د هدایت غوښتنه شوې وه چې د یادو زندانیانو په باره کې څرنګه ترتیب وشي؟

د پورته ذکر شوي زندانیانو په باره کې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر(۴۵)مورخ۱۴۴۴/۱۲/۸ هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۵هـ ش رارسیدلی چې متن یې داسې دی:

((د زندانونو چارو د سمون ادارې ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

صحت او عافیت مو الله جل جلاله په نصیب کړه!

وبعد: د ایران هیواد څخه را انتقال شوي بندیان د سرحدي ولایتونو د محابسو څخه د خپلو ولایتونو محابسو ته انتقال کړئ، په اعدام او قصاص محکوم شوي بندیان څه موده وساتئ او په حبس محکوم شوي بندیان اړونده محاکمو ته وړاندي کړئ.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته تحریر شوی فرمان د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت په اساس د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو مربوطه محاکم د یادو زندانیانو دوسیې د محکومینو د انتقال کمیټې لخوا تر استولو وروسته واخلي او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۲) مورخ ۱۴۴۴/۱/۲هـ ق مطابق دي حق د اولیت ورکړي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۵۹
### نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۲۱ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په وزارتونو او امارتي ادارو کي د مراجعینو لپاره د آسانتیا د برابرولو په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله (٤١) ګڼه فرمان مورخ ١٤٤٤/١١/٧ هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۳/۶هـ ش سلسلتاً را رسیدلی دی.

پورته ذکر شوی فرمان د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم مقام د شفاهي هدایت په اساس د دې متحدالمآل مل په (۲) ورقو کي د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کي اصولي اجراآت تر سره شي.

( په وزارتونو او امارتي ادارو کي د مراجعینو لپاره د آسانتیا د برابرولو په هکله د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله فرمان)

عن أبي الشماخ الأزدي، عن ابن عم له من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، أتى معاوية فدخل عليه، فقال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول:( من ولي أمرا من امر الناس ثم اغلق بابه دون المسكين والمظلوم اوذي الحاجة، اغلق الله تبارک وتعالى دونه ابواب رحمته عند حاجته وفقره أفقر ما يكون إليها (اخرجه أحمد)

ژباړه: ابو الشماخ الازدي رحمة الله تعالی دخپل تره له زوی څخه چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي( رضی الله تعالی عنه) دی روایت کوي چي هغه معاویه رضی الله تعالی عنه ته ورغلی او ورته ویې ویل، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي : چاته چي د مسلمانانو په چارو کي کوم کار وسپارل شي بیا یې خپله دروازه د مسکین، مظلوم او اړمن کس پر مخ وتړله الله تعالی به دهغه د پر مخ د هغه د حاجت او فقر پر مهال دخپل رحمت دروازې وتړي، داسي مهال چي هغه به د الله تعالی رحمت ته تر هر وخت ډیره اړتیا لري.

وفي رواية الترمذي : فجعل معاوية رجلاً على حوائج الناس.

ژباړه:نو له دې وجي څخه معاویه رضی الله تعالی عنه د خلکو دحوائجو پوره کولو لپاره یو کس مؤظف کړ.

د پورتنیو روایتونو له مخي، لاندي مراتب منظوروم:

لومړۍ ماده :

د وزارتونو، مستقلوریاستونو، سترې محکمې، محکمو، ولایتونو، ولایتي ریاستونو، امنیه قوماندانیو،ولسوالیو او د نورو امارتي ادارو مسئولین مکلف دي، چي اړوندو وزارتونو او ادارو ته د مراجعینو د منلو لپاره لازمي آسانتیاوي برابرې کړي ترڅو په مستقیم ډول خپل مشکلات مسئولینوته وړاندي کړي.

دوه یمه ماده :

(١) که چیري د دې فرمان په لومړۍ ماده کي د درج شویو مراجعو مسئولین د چارو د تراکم او زیاتوالي له امله، ونه کړای شي له مراجعینو سره وګوري او ستونزي یې واوري، نو خپل یو استازی دي له مراجعینو سره دکتني او د هغوی د ستونزو د لري کولو لپاره توظیف کړي.

(۲) د دې فرمان په لومړۍ ماده کي د درج شویو مراجعو مسئولین مکلف دي، چي ډیر ژر د مراجعینو عریضو او ستونزو ته رسیدګی وکړي.

دریمه ماده:

دغه فرمان د توشیح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کي دي خپور شي.

والسلام

امیر المؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله آخند زاده

پاتي برخه ص ۴

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لااله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د پکتيا ولايت په مرکز ګرديز او زرمت ولسوالۍ کې څلور تنه مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

په ۱۷ / ۱۲ / ۱۴۴۴ هـ ق نېټه د پکتيا ولايت زرمت ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې لخوا دوه تنه مجرمينو ته د غلا د جرم او په ۱۸ / ۱۲ / ۱۴۴۴ هـ ق نېټه د پکتيا ولايت مرکز ګرديز په سټوډيوم کې د ښاري ابتدائيه محکمې رياست د جزا ديوان لخوا دوه تنو مجرمينو ته د غلا د جرم له امله تعزيري سزا ورکړل شوه.

ياد څلور تنه مجرمين چې په جلا جلا پېښو کې د غلا په جرم نيول شوي وو له زور او جبر پرته يې په خپلو جرمونو اعتراف او اقرار وکړ.

د يادو مجرمينو نسبتي دوسيې د پکتيا ولايت ښاري ابتدائيه محکمې رياست د جزا ديوان او د زرمت ولسوالۍ ابتدائيه محکمې لخوا څېړل شوي او قطعي شوي، چې وروسته د دوسيو ټول اصولي مراحل د سترې محکمې لوړ مقام له هدايت سره سم طې شول.

په يادو غونډو کې د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس مفتي امان الله «منقاد حقاني» د ښاري ابتدائيه محکمې د جزا ديوان رئيس مولوي سيد اکرم «حماسي» د ښاري ابتدائيه محکمې قضايي او اداري غړي، د پکتيا ولايت زرمت ولسوالۍ ابتدائيه محکمې رئيس، مفتي، د زرمت ولسوالۍ ولسوال، امنيه قوماندان، د ولايت مقام قدرمن مسؤلين او د ولايت د نورو دفاترو پر مسؤلينو سربېره د پکتيا ولايت عام ولس هم ګډون درلود، د غونډې په جريان کې د پکتيا ولايت مرافعه محکمې عمومي رئيس مفتي امان الله «منقاد حقاني» اصلاحي وينا وکړه او غونډه د دعايې په ويلو سره پای ته ورسېده.

## جزای تعزیری بالای چهار تن در محکمه ابتدائیه ولسوالی پغمان ولایت کابل تطبیق گردید

چهار تن در قضیه فسق و فجور یکجا با یک زن از ساحه بند قرغه توسط مؤظفین امنیتی گرفتار و جهت رسیدگی به قضیه اشخاص فوق همرای به اوراق جمع شده علیه آنها به محکمه ابتدائیه ولسوالی پغمان ولایت کابل محول گردیده؛ محکمه ابتدائیه بعد از تحقیقات همه جانبه طوری حکم نمود که هر یک از متهمین را به سه سه ماه حبس تنفیذی و بیست بیست دره شرعی محکوم به مجازات نمودند، بعداً دوسیه ابتدائیه به محکمه مرافعه ولایت کابل بعد از محکمه مرافعه به ستره محکمه ارسال گردید، که در هر دو محاکم فوق حکم محکمه ابتدائیه ولسوالی پغمان تائید و قابل تطبیق پنداشته شد.

حکم فوق یوم یکشنبه تاریخ ۲۱/۱۲/۱۴۴۴ هـ ق در محوطه محکمه ابتدائیه ولسوالی پغمان با حضور داشت اعضای مسلکی محکمه ابتدائیه پغمان، اعضای مسلکی محکمه ولسوالی فرزه ولایت کابل، ولسوال محترم ولسوالی پغمان، علماء و سایر اشخاص دیگر، بالای هر چهار تن از مجرمین تطبیق گردید تا پند برای آنها و عبرت برای دیگران گردد..

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ٦٠
### نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۲۲ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هـ ق چي د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د څوارلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د يادي غونډې دريمه موضوع داسي وه: ((په جزائي موضوعاتو کي کله مدعی عليه د پيښې د ځاي څخه فرار وکړي او په بل ځای کي ګرفتار شي موضوع يې د پيښې د ځای په محکمه کي حل او فصل شي که دګرفتارۍ د ځای په محکمه کي؟ نو په دې اساس موضوع ستاسو محترم عالي مقام ته وړاندي شوه په اړه يې چي څرنګه ستاسو هدايت وي د هغه سره سم به اجراآت ترسره شي.))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۴۵)مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۴هـ ش د دريمې پريکړې په اساس په لاندي ډول هدايت وکړ:

((جنائي موضوعات او جرائم دوه قسمه دي: ۱ـ غير ممتد. ۲ ـ ممتد.

۱ ـ غير ممتد: لکه قتل، سرقت وغيره د پيښې د ځای محکمه يې د حل او فصل صلاحيت لري.

۲ ـ ممتد: لکه د ښځې فرار له کور څخه، په دغه صورت کي که مدعي ولري مدعي ته اختيار دی د پيښې د ځای په محکمه کي د خپلې موضوع حل او فصل کول غواړي او که دګرفتارۍ د ځای په محکمه کي يې حل او فصل کول غواړي په دغه دوه محکمو کي چي کومي محکمې ته عارض سو هغه محکمه يې د حل او فصل صلاحيت لري، او که مدعي ونه لري د نيولو د ځای محکمه يې د حل او فصل صلاحيت لري.

همدارنګه د اختطاف په موضوعاتو کي که د اختطاف والا سره مختطف يو ځای ونيول شو حکم يې د ممتد دی مدعي اختيار لري چي په هره محکمه (د جرم د وقوع د محل محکمه يا دګرفتارۍ محکمه) کي غواړي د موضوع د حل او فصل غوښتنه دې وکړي، او که يواځي اختطاف والا بې له مختطف څخه ونيول سو په دې صورت کي يې حکم د غير ممتد دی او د موضوع د حل او فصل صلاحيت يواځي د پيښې د ځای د محکمې سره دی.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کي اصولي اجراآت تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ٦١
### نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۲٤ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هـ ق چي د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د څوارلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د يادي غونډې څلورمه موضوع داسي وه: ((د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۱۱) مورخ ۱٤٤٤/۱/۳۰ هـ ق مطابق هغه موضوعات چي د تميز لخوا نهائي کيږي غير قانع جانب يې تر درو ورځو پوري د تجديد نظر غوښتلو حق لري اوس پوښتنه داده: چي هغه موضوعات چي په ابتدائيه او استينافي مرحله کي قطعي کيږي د اصولو مطابق خو مرافعه او تميز نه لري د تجديد نظر حق لري او که نه؟ که د تجديد نظر حق ولري د تجديد نظر غوښتلو موده يې د پورته ذکر شوي متحدالمآل مطابق درې ورځې ده او که څنګه؟))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۴۵)مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۴هـ ش د څلورمې پريکړې په اساس په لاندي ډول هدايت وکړ:

((هغه فيصلې چي په ابتدائيه او استينافي مرحله کي د اصولو مطابق قطعي سي د يادو فيصلو غير قانع جانب لکه د مرافعې او تميز حق چي نلري همداسي د تجديد نظر حق نه لري.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کي اصولي اجراآت تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ٦٢
### نېټه: ۱۴۴۴/۱۲/۲٥ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو ، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هـ ق چي د ۱٤۰۲ هجري لمريز کال د سرطان د مياشتې د څوارلسمې نېټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د يادي غونډې شپږمه موضوع داسي وه: ((د سترې محکمې د عالي شورا د مجلس مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق د هدايت مطابق د بانکونو د تکتانې موضوع د مشرتابه محترم عالي مقام ته وړاندي شوي وه، په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام لخوا داسي هدايت شوی وو: (د تيري اداري په وخت د بانکونو لخوا خلکو ته په سود ورکړل شوي قرضونو په باره کي دي د موضوعاتو صورتونه په تفصيلي ډول وليکل سي او د سترې محکمې د محترم مقام تر کتنې وروسته دي د استفتاء په شکل دواړه دارالافتاوو ته واستول شي.) د ياد هدايت مطابق د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست لخوا د موضوعاتو صورتونه ليکل شوي وو چي په تاريخ ۱۴۴۴/۴/۱۷هـ ق د سترې محکمې د مقام د دفتر محترم رياست ته استول شوي دي تر څو د مشرتابه محترم عالي مقام ته واستول شي.

اوس ځيني بانکونو والا محاکمو ته مراجعه کوي او وايې چي موږ د خپلو پيسو په بدل کي تکتانه نه غواړو يواځي خپلې پيسې غواړو، په اړه يې چي څرنګه ترتيب وشي؟))

د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د سترې محکمې عالي شورا د تصويب نمبر(۴۵)مورخ ۱۴۴۴/۱۲/۱۷هـ ق مصادف ۱۴۰۲/۴/۱۴هـ ش د شپږمې پريکړې په اساس په لاندي ډول هدايت وکړ:

((د بانکونو دغه موضوعات چي: (تکتانه نه غواړي يوازي د خپل قرض پيسې د مقروض څخه غواړي)) ،کله چي محاکمو ته را شي مربوطه محاکم دې په اړه خپل اصولي او شرعي اجراآت ترسره کړي.))

بناءً د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه په رڼا کي اصولي اجراآت تر سره شي.

میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمیرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳